# فضائي معلومات



Ketabton.com

ليكوال:جليل احمد(ارمان)



(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

ښاغلو لوستونکو! تاسی به په دغه کتاب کي د کاینات د ځینو شیانو او موضوعاتو په اړه به معلومات تر لاسه کړي.
هغه علم کوم چي د فضاء څخه بحث کوي د فضاء ساینس په نوم یادیږي او څوک چي ددغه موضوعات څیړي هغه ته د فضاء ساینسپوه یا ستور پوه هم ورته وایي
د فضاء ساینس د طبیعي علومو یو برخه ده.
ددغه علم مطالعه موږ سره د فضاء د جوړښت، ځانګرتیاوو او پیژندنه کي مرسته کوي.
دا ټوله شیان کوم چي په دغه کتاب کی بیان شوي زیاتره یی په قرآنکریم کی موږ ته ښودل شوي دي.
خو ډیر په تاسف سره زه دا وایم چي موږ او تاسو یوازي قرآنکریم لوستی دی بس لفظونه او سورتونه مو په یاد دي خو په حقیقي معنی او مطلب باندې یې نه پوهیږو په اوسنی وخت کې چه څومره کشفیات او اختراعات شوي دي ټول د قرآنکریم د مبارکو لارښوونو په برکت شوي دي څومره چه علم او ساینس پرمختګ کوي په هم هغه اندازه د خداي تعالی د مبارک دین حقانیت څرګندیږي او داسی ښکاري چه ساینس او علوم د متعال خداي(ج) د دین خدمت کوونکي دي.همدارنګه څه د پاسه (۱۴۰۰) کاله دمخه چه د اسلام سپیچلی دین څه ویلي دي ساینس اوس کټ مټ هماغه خبرې ثابتوي کومي چه د الله(ج) معجز کلام څه د پاسه (۱۴۰۰) کاله دمخه فرمایلي دي.
خدای تعالی خپل بندګان داسې دوست ګڼي لکه څرنګه چي مور او پلار خپل اولاد دوست ګڼي بلکه د هغه نه هم زیات دوست ګڼي هر څه چي انسانانو ته زیان رسوي هغه یي حرام ګرځولی دی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم څه چي د انسانانو د پاره ضروري دي ګټور او فايده مند دي هغه يې حلال ګرځولی دی او د استعمال اجازه يې ورکړي ده. د يوه ديني عالم په قول او وينا چي هيڅ يوه ساينسي تجربه د شرعي نصوصو سره په ټکر کې نه واقع کيږي او که چيري احيانا واقع هم شي نو د دوو حالاتو څخه به خالي نه وي.لومړي دا چي دغه ساينسي تجربه به کاملا نه بشپړه شوي او نيمګرتياوي به وي او يا برعکس ساينسي تجربه به بشپړه وي اما د وخت علماء به د شرعي نص په استنباط باندي نه پوهيږي. نو يقيني خبره ده چي د اسلام مبارک دين د فطرت دين دي او د ساينس او تجربو سره په ټکر او تصادم کې نه واقع کيږي.
که چيري په افغانستان کي د ښوونې او روزنې هلې ځلې په پوره پراختيا سره تر سره شوي واي نو د ننيو ناخوالو،جنګ جګړو او تاو تريخوالي پر ځاي به سوله او امن نيولی وای. اوله پرديو څخه به نن ورځ د خير غوښتلو نه خلاص واي.
په هر صورت په مختلفو هيوادونو کې يې په خپلو ښوونو او روزنو کې قرآنکريم معنى ننيستي ده او داسې کشفيات يې کړيدي چي اوس مسلمانانو لاسونه او پښې ورته تړلي دي او له يوې مخې پوپناه کيږي.له همدي امله ما د زيات وخت راهيسي دا هيله درلوده چي څرنګه وکولای شم د خپلو ګرانو هيوادوالو ورونو او خوندو او ماشومانو د سالمې روزنې په خاطر داسي مفيد اثار ولیکم چي له يوي خوا زموږ وروسته پاته ټولني د پرمختګ سبب شي او بلې خوا ته زده کوونکي او د زده کړې مينه وال د اړتيا په صورت کي ترې استفاده وکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



Table of Contents

لويه چاودنه ........................................................................ 1
لويه چاودنه د قرآن په رڼا کي ................................................ 6
د فضاء وخت ....................................................................... 8
فضاء ................................................................................. 9
وخت ................................................................................. 9
د فضاء د يخوالي لامل .......................................................... 15
انسوليټر ............................................................................ 20
مطلق صفر ......................................................................... 20
د فضاء د تورو الي لامل ........................................................ 25
تور غار ............................................................................. 35
تور غار د قرآن په رڼا کي .................................................... 38

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

دا کتاب زه ډالي کوم تر ټولو دمخه زما قدرمنو موراو پلار ته او تر هغه وروسته زما کورنۍ ته او دهغه وروسته زما ګرانو اوستاذانو ته چا چي زه ددغه کتاب ليکولو ته تشويک کړم.

.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لویه چاودنه:

د ساینس دا عاقده ده چې زمونږ ستاسو ټوله شمسي نظام له یوي چاودني څخه جوړ شوي. د پخواني یونانیانو او فیلسوفانو او د ساینس پوهانو دا خیال دي چي زمونږ دا دنیا او دا کاینات همیشه څخه وو او همیشه به وي کوم چي غلط دي.

الله(ج)حکم وکړ چي (کن) یعني وشه او زمونږ ستاسو دا کاینات جوړ شو په وجود راغلي. شلمه پیړۍ په ساینس کي ډیر لوړ مقام لري ولي چي په دغه پیړۍ کي ځومره پرمختګ چي ساینس وکړ دومره په لاس راغلي تاریخ کي نه وو شوي. د پرمختګ ددي سفر په جریان کي زمونږ ستاسو د کاینات د هري خوا په مطلب داسي رازونه را ښکاره شوه کوم چي ساینسپوهان یي په حیرانتیا کي اچولي.د وخت او فاصلي په واهلو واهلو سره تر ننه پوري انسان ته ددي فکر ولي نه سو پیدا چي هغه په کومه دنیا کي چي ژوند کوي د هغه کاینات پیل څه ډول وشو. په آسمان کي ځلیدلي ستوري،په مځکه کي رنګه ګلان،شنه کیدونکي نبات، د سمندر په منځ کي شنګیا،ښکلي ماهیان،د ژوند په جریان کي ټول ښکاره کیدونکي ټول ښکلي منظري او زمونږ ستاسو په ژوند کي هرهغه شي پیل څه ډول وشو؟دا زمونږ ستاسو کاینات څه وخت او څرنګه رامنځته شو څه وخت یي خپل پیل وکړ؟په فضاء کي هر لوري ته اچول شوي غټي او کوچني ډبري څرنګه په وجود راغلي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هغــه ســوالات دي کــوم چــي پيــړۍ پيــړۍ راهيســي د انســان پــه فکــر کــي پيــدا کيږي.دغــه ســوالات مــوږ د نظريــاتو و هغــه دنيــا تــه وړي،چيــري چــي د خيــالاتو عجيبــه جهــان مــوږ پــه ډير ځه فکر کولو ته مجبوره کړي.

پــه دا دنيــا کــي د انســان د لــومړي قــدم څخــه انســان ددي کاينــات د هغــو شــيانو پــه مونــدلو کــي مصــروفه دي کــوم چــي ددي کاينات د جوړيدو په هکله معلومات ورکوي.

د تــاريخ د مطالعــه کولــو څخــه دا معلــوميږي چــي يــو قــديم ښــار بابــل پــه مونــدلو څخــه د دي کاينــات پــه اړه يــو ځــه رڼــا اچوول کيږي.

د قــديم بابــل دا عاقــده وه دا ځمکــه لــه ځلــورو خــواو لــه ســمندرونو څخــه چارچــاپيره شــوي ده او آســمان د ســرچپه پيــالۍ پــه ځيــر پــه ځمکــه ايښــودل شــوي دي. کــوم چــي حقيقــت نه دي.

اهــل بابــل ســپوږمۍ،لمر او د ســتوري بــه يــي خــدايان بالــه. د نــن پــه پرمختللــي زمــان کــي کــه دغــه د درواغــو حقــايق کــه وهــم پيژنــۍ مګــر دا يــو حقيقــت دي چــي د هغــه پخوانيــو خلګــو دا خبــري د نــن پرمختللــي ســاينس يــي ددي کاينــات پــه پيژنــدلو کۍ مصروفه کړي.

د پخــوانۍ بابــل پــه مقابــل کــي د پخــوانۍ مصــر وګــړي ددي کاينــات پــه اړه يــي فکرونــه جــلا وه.پخــوانۍ يونانيــانو بــه دا منــل چــي ځمکــه پــه حرکــت کــي ده،وروســته يــو يونــانۍ فلســفي ددي خبــري د ثابــت کولــو کوښــښ وکــړ چــي ځمکــه د لمــر پــه شــاوخوا ځرخي.مګــر د اوســني ســاينس څخــه ددي کاينــات پــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړه کــول شــوي څېړنــي پخــوانۍ فکرونــه يــي لــه خــاورو ســره خــاوري کــړه.د نــن پرمختللــي ســاينس دا وايــي چــي ددي کاينــات پيــل ۱۴ مليــارده کالــه مخکــي شــوي دي.د ننــۍ ســاينس دا هــم وايــي چــي ددي کلونــو څخــه مخکــي زمــان او مکــان يعنــي دا ټولــه کاينــات پــه يــو ګــردي شــکل کــي را قيــد وو.پــه دغــه ګــردي شــکل کــي توانــايي يعنــي طاقــت خپــل طوفــان يــي برکــراره ســاتلي وو،د کــوم د لاســه چــي دغــه شــکل د لايتنــاهي حــده پــوري کثيــف او ګــرم وو. هــم دغــه شــکل د کيســي پيــل او هــم دغــه څخــه دا کاينــات پــه وجــود راغلــي دي او کــوم چــي اوس هــم جريــان لــري.دا کاينــات د يــوې چــاودني څخــه پــه وجــود راغلــي کــوم چــي ســاينس يــي د بيــګ بينــګ يعنــي د لــوي چــاودني پــه نامــه پيژنــۍ او ددي ټولــو د مخــه دا ټولــه يــو ګــردي شکل وو کوم چي مو مخکي يادونه وکړه.

د ســاينس پوهــانو دا خيــال وي چــي اول يــو عظــيم چاودنــه وشــوه او دا کاينــات د طاقــت د مــادې د شــکلونو پــه څيــر پــه جــلا کيــدو ســره مختلــف ستورو،کهکشــانونو،د ځمکــي او آســمان د پيــدا کيــدو ســبب شــو او د هغــوي پــه فکــر دا ټولــه يــو اطفــاق وو يعنــي دوي دا ويــل چــي ددي کاينــات د خلقــت لپــاره هــيڅ کلــه د يــو خــالق اړتيــا پيــدا نــه شــوه.مګر دلتــه دا ســوال پيــدا کيــږي چــي  دا کاينــات کــوم چــي د لــويي چــاودني پــه زريعــه پــه وجــود راغلــي دي نــو دا لازمــي ده چــي ددي يــو خــالق ســته.که چيــري خــالق موجــود نــه واي نــو بايــد چــي دا کاينــات لــه هميشــه څخه موجود واي.

فزيــک وايــي چــي دا کاينــات لــه هميشــه څخــه موجــود نــه وو،دا د يــو شــي پــه واســطه رامنځتــه شــوي دي او خپلــه نــه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



رامنځته شوي يو چا رامنځته کړي دي او هغه الله(ج) دي.
لحاظا دا خبره ددي تصديق کوي چي دا کاينات د لويي چاودني څخه رامنځته شوي دي او ددی د مخه دا موجود نه وو.يو لوي طاقت والا دا ددي چاودني په واسطه رامنځته کړ او هغه الله(ج)وو او ددي کاينات پيدايښت او دا چاودنه د الله(ج)په موجوديت باندي دلالت کوي.ددي عظيم چاودني وروسته د کايناتي زراتو اتحاد ته ساينس پوهان يوه معجزه بالي يوه عظيمه معجزه چي آخر دا تمام زرات په يو بهترينه صورت کي ځرنګه منظم شوه،د کوم څخه چي په لکهاوو کهکشانونه په وجود راغله او په هر کهکشان کي په لکهاوو سياري ځرنګه په وجود راغله.د ننی زمانی ساينس پوهان د کاينات په دغه لايتناهي جوړښت باندي خپل ټول علم په کارولو وروسته بيا هم حيران دي. د ننی زمانی ساينس پوهانو کي اوس هم داسي ساينس پوهان سته چي اوس هم هغه پخوانی نظر تائيده وي چي دا کاينات له هميشه څخه وه او هميشه به وي او دا هم وايي چي ددي کاينات هيڅ خالق نسته.

د حيرانتيا خبره خو دا ده چي د نن څخه ۱۴۰۰ کاله دمخه قرآن موږ ته ددي په اړه خبر راکړي دي.کله چي هغه وخت د کايناتو په اړه علم د ننی عصر د علم په مطابق د نه اوسيدو په برابر وو يعني نن ورځ چي ساينس څومره پر مختللي دي هغه وخت و لا نه.ملګرو ددي ژوند د تيرولو ځيني اصول وي.

يوه نظريه د يونان وه، چي هغه داسي وه: ددي نه کوم پيل وو او نه هم کوم پاي سته هر څوک چي هر ډول يي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیـــروي ســـم دي.کلـــه چـــي اتلســـمه پیـــړۍ راغلـــه دا نظریـــه لـــه مینځـــه ولاړه کلـــه چـــي ســـاینس دا خبـــره ثابتـــه کـــړه چـــي یـــا ددي پیل هم شوی دي او یو وخت به ددی پاي هم کیږي.

ملګـــرو د آســـټرالیا یـــو ســـاینس پـــوه وو کـــوم چـــي پالـــډویس نومیده.هغـــه یـــوه بلـــه خبـــره ثابتـــه کـــړه چـــي ددي کاینـــات جـــوړونکي ســـته خپلـــه نـــه دي جـــوړ شـــوي او ورســـره دا یـــي هـــم وویـــل چـــي د چـــاودني څخـــه خـــو ویرانـــي رامنځتـــه کیـــږي جـــوړه ونـــه خـــو نـــه کیږي.کـــه چیـــري زه اوس داســـي ووایـــم چـــي زه پوهنتـــون تـــه ولاړم هلتـــه نـــږدي پوهنتـــون ســـره چاودنـــه وشـــوه هـــر څـــومره خلـــګ چـــي هلتـــه وه ټولـــه پـــه هـــوا شـــوه او خپـــل کـــورو کـــي کشیناســـته داســـي خـــو هـــیڅ کلـــه نـــه ســـی کیـــداي ولـــي چـــي د چـــاودني څخـــه خـــو ویرانـــي رامنځتـــه کیـــږي.دا پـــه کاینـــات کـــي یـــوازیني داســـي چاودنـــه ده کـــوم چـــي دا کاینـــات یـــي پـــه داســـي ښـــکلي شـــکل ســـره رامنځتـــه کړ.یـــوه ثانیـــه پـــه ۱۰۰۰ برخـــو ســـره تقســـیم کیـــداي شـــي او د هغـــه څخـــه نـــور زیـــات نـــه ســـي تقســـیم کیـــداي. نـــو هغـــه ســـاینس پـــوه کـــوم چـــي مـــا اوس مخکـــي یادونـــه وکـــړه هغـــه دا خبـــره ثابتـــه کـــړه کـــه د یـــوي ثـــانیي ۱۰۰۰۰۰ برخـــي جـــوړي کړو،کلـــه چـــي چاودنـــه وشـــوه نـــو هغـــه وخـــت دوه طاقتوتـــه پـــه وجـــود راغلـــل،یو د جـــذبي قـــوه او بـــل ســـرعت،که چیـــري هغـــه وخـــت ســـرعت زیـــات شـــوي واي نـــو دا کاینـــات بـــه پاشـــل شـــوي واي او کـــه د جـــذبي قـــوه زیاتـــه شـــوي واي نـــو دا کاینـــات بـــه بیرتـــه راټـــول شـــوي واي بیـــا بـــه ګـــردی شـــکل یـــا صـــفر جـــوړ شـــوي واي.کـــه چیـــري پـــه دغـــه کـــي د یـــوي ثـــانیي ۱۰۰۰۰۰ برخـــي جـــوړي کـــړو نـــو یـــو ویشـــل شـــوي ۱۰۰۰۰۰ برخـــو پـــه انـــدازه کـــه ســـرعت زیـــات شـــوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



واي نــودا کاينـــات بـــه پاشــل شـــوي واي او کـــه د جـــذبي قـــوه زياته شوي واي نو دا کاينات به بيرته صفر شوي واي.

## لويه چاودنه د قرآن په رڼا کي

ملګـــرو زمـــوږ قـــرآن دســـاينس د تصـــديق کولـــو لپـــاره نـــه دي راغلـــي د ســـاينس د درواغ ثابـــت کولـــو لپـــاره هـــم نـــه دي راغلي.زمـــوږ قـــرآن د هـــدايت لپـــاره راغلـــي دي او د ژونـــد تيرولـــو طريقـــه راشـــوي،يو ځـــاي يـــو ځـــاي هغـــه دا دنيـــا لمـــس کـــوي او داســـي صـــحيح لمـــس کـــوي چـــي هغـــه نـــو څـــوک نـــه ســـي بدل کولاي.

ملګـــرو مـــوږ ســـره ددي نظـــر نســـته چـــي دا کاينـــات خپلـــه جـــوړ شـــوی وي مـــوږ ســـره ددي نظـــر ســـته چـــي دا الله(ج)جـــوړ کـــړي او د يو نظام سره.

الله(ج) پـــه صـــورت ال انبيـــاء کـــي فرمـــايلي پـــه آيـــات نمبـــر ٣٠ کي:

ګـــوري هغـــه کســـان چـــي کـــافران شـــوي دي چـــي بيشـــکه دا آســـمانونه اوځمکـــي دواړه وه پيوســـته نـــو جـــلا کـــړ مـــوږ دوي او ګرزولـــي دي مـــوږ لـــه اوبـــو څخـــه هـــر شـــي ژونـــدي او ژونـــد آيـــا نونه راوړي دوي ايمان.

د نـــن ســـاينس پـــه مطـــابق کاينـــات مسلســـل پراخيـــږي مګـــر پـــه قـــرآن کـــي الله (ج) د نـــن څخـــه ١۴٠٠ کالـــه د مخـــه داســـي فرمايلي:

او مـــوږ تيولـــه آســـمانونه پـــه دغـــه لاســـو ســـره جـــوړ کـــړ او مـــوږ ته تيول مقدول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



آيا لـه دي خبـري څخـه مـوږ دا نتيجـه اخيسـتاي شـو چـي پـه كاينـات كـي هـره لحظـه يـوه نـوي مـاده پيـدا كيـږي د كـوم د لاسه چي كاينات يو ځاي كيږي

صورت الحم كي الله(ج)په آيات نمبر ١١ كي فرمايلي:

بيـائي اراده وكـړه پيـدا كولـو د آسـمان او دى لـوګي وو نـو وئـي ويـل ده تـه او ځمكـي تـه راشـي دواړه پـه خوښـه يـا پـه نـا خوښي سره وويل دواړو راځو موږ په خوښه سره.

د كاينـاتو پيـدا كـوونكي وويـل (كـن) او د ژونـد ښـكلي ځـاي جـوړ شـو اوس ددى كـن شـاته كـوم سـاينس پوشـل شـوي دي. د سـاينس پوهـانو يـو ګـروه پـه كاينـات كـي موجـود هـر شـي تـه لفظ وايي.

يـو داسـي لفـظ چـي د حروفـو مجموعـه نـه بلكـه پـه دا يـو لفـظ كـي ټولـه ژونـد موجـود دي او پـه كاينـات كـي هـر يـوه مـاده لفـظ ده،ځمكـه لفـظ ده آسـمان لفـظ دي او د ځمكـي او آسـمان تـر منځ هر شي لفظ دي. لفظ د ارتقالي مراحل جاري ساتي.

انسـان مـړ سـي خـو لفـظ پاتـه سـي. د يـو نـه ختميـدونكي صـفر ابتـداء د لفـظ (كن)څخـه كيـږي او پـه راتلـو راتلـو سـره انسـان تـه الله(ج) علـم وركـړ او د انسـان اختتـام هـم پـه لفـظ كيـږي يعني (فياكن) باندي.

ځينـي بيـا د كاينـات د پيـدا كيـدو سـبب آواز بـالي هغـه وايـي د آواز شـدت دومـره زيـات دي كـه يـو زور داره آواز پيـدا كـړل شـي نـو انسـاني غـوږ هغـه اوريـدلاي نـه شـي او دا آواز واي د كاينـات د تخليـق سـبب هـم كيـداي سـي،او دغـه خبـره لويـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چاودنــه د دلیــل پــه توګــه وړانــدي کــوي د هغــوي پــه مطلــب د (کن)د آواز د شدت څخه کاینات رامنځته شو.

## د فضاء وخت:

وخــت کــوم چــي مــوږ لیــدلای نــه ســو،اوریدلاي نــه ســومګر بیــا هــم هــر وخــت هــره ورځ دا محســوس کــولاي شــو،نو دا څــه شي دي.آیا دا له فضاء سره یو ډول اړیکه لري؟

د اینســټاین د مخــه چــي کــوم ساینســپوهان وه هغــوي دا ویــل چــي فضــاء او وخــت یــو لــه بــل ســره هــیڅ اړیکــه نــه لــري نــو پــه همــدي خــاطر پــه فضــاء کــي راغلــي هــر ډول بــدلون پــه وخــت هــیڅ اغیــزه نــه کــوي.د نیــوټن پــه مطــابق وخــت مطلــق دي یعنــي پــه کاینــات کــي وخــت د ټولــو لپــاره یــو ډول وي یعنــي کــه زمــا لپــاره کــه دوه ســاعته وخــت تیــر شــوي وي نــو پــه دا ټولــه کاینــات کــي بــه د ټولــو لپــاره دوه ســاعته وخــت بــه تیــر شــوي وي کــه هغــه پــه کومــه بلــه ســیاره کــي وي یــا کــوم بلیــک هــول تــه نــږدي وي یــا کــوم داســي طیــاري کــي وي د کــوم ســرعت چي د نور د سرعت سره مساوي وي.

مګــر د اینســټاین فکــر یــو څــه جــلا وو.هغــه دا ویــل چــي فضــاء او وخــت یــو لــه بلــه ســره مبنــتي دي د کــوم لــه وجهــي چــي دواړه پــه خپلواکــه توګــه پایښــت نــه کوي.هغــه دا هــم ویــل چــي وخــت مطلــق نــه وي بلکــه خپــل وي یعنــي د ټولــو لپــاره یــو ډول نه وي.

پــه بیــل بیــل حــالاتونو او ځــایونو کــي وخــت پــه بیــل بیــل ډول ســره تیرېږي.کــه د خپلــوي پــه مفکــوري کــي وګــورو نــو مــوږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



فضــاء او وخـــت جــلا كــولاي نـــه شـــو پـــه حقيقــت كـــي د وخـــت د تيريـــدو رفتـــار د يـــو موجـــود پـــه ګرنـــديتوب او د هغـــه ثقـــل د ساحه له امله وي.

کـــه زمـــا د ثقـــل قـــوه او ګرنـــديتوب (چټکتيـــا) ستاســـو د ثقـــل قـــوي او ګرنـــديتوب څخـــه جـــلا وي نـــو زمـــوږ لپـــاره بـــه د وخـــت د تيريدو سرعت يا رفتار به هم جلا وي.

د جـــذبي قـــوي او ګرنـــديتوب(چټکتيا) پـــه زياتيـــدو ســـره د وخـــت سرعت يا رفتار کرار سی.

د فضـــاء وخـــت دپيژنـــدلو د مخـــه مـــوږ بايـــد فضـــاء او وخـــت دواړه په جلا جلا ډول وپيژنو.

فضاء:

کـــه مـــوږ خبـــره د فضـــاء وکـــړو نـــو زمـــوږ شـــاوخوا ټولـــه ســـاحه فضـــاء ده.د يـــو شـــي موقعيـــت د پيـــدا کولـــو لپـــاره مـــوږ لـــه ۳ ګرافونـــو څخـــه کـــار اخلـــو کـــوم چـــي د x,y,z محورونـــه دي يعنـــي اوږدوالي،ســـوروالي او ژوروالـــي څرګنـــد کـــوي يعنـــي زموږ ۳ بعده وشوه.

وخـــت: اوس کـــه خبـــره د وخـــت وکـــړو زمـــوږ لپـــاره ددي تشـــريح کـــول مشـــکل بـــه وي ولـــي چـــي وخـــت تـــل مختـــه ځـــي دا زمـــوږ څلـــورم بعـــد منـــو.اوس کـــه مـــوږ فضـــاء او وخـــت ســـره يوځـــاي کـــړو نـــو دا بـــه ســـي څلـــور بعـــدي دفضـــاء وخـــت کـــوم چي په انګليسي کي **space time** ورته ويل کيږي.

اينسټاين وايلي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چـــي فضــــاء او وخـــت دواړه يوځـــاي د فضـــاء وخـــت پـــه شـــكل سره مبنتي دي.

دواړه يــو د بــل بغيــر وجــود نــه لــري يــا مختــه نــه ځي.آيــا دا يــو حقيقت دي نو راځو دا د يو مثال په ډول وپيژنو.

**مثـــال:**پــه يــو ټــولنيزه ځانګــه كــي ستاســو د يــو داســي ملګــړي ســـره ملګرتيـــا وشـــوه كـــوم چـــي هيڅكلـــه مـــو نـــه دی ســـره ليــدلي.مګر د څـــو ورځـــو د چيــټ لـــه لاري خبــري اتــري كولـــو وروســـته تاســو د يــو بــل ليــدلو تــه ليوالـــه شـــي،د هغــه ســـره د ليــدلو لپــاره تــه بــه هغــه تــه فضــاء او وخــت دواړه بــه ورشــوي لكــه غـــازي پـــارک د جمعـــي پـــه ورځ،مـــازديګر ۴ بجی.كــه پــه دی دواړو كــي تــه هغــه تــه يــو شــي ووايــي نــو هغــه بــه تــا پيــدا نــه كـــړي لكـــه غـــازي پـــارک كـــي بـــه ســـره ووينو.دلتـــه دده ســـره معلومـــات نســـته چـــي غـــازي پـــارک كـــي پـــه كومـــه ورځ او څـــه وخت سره ګورو.

دوهمـــه خبره:كـــه تـــه هغـــه تـــه يـــوازي وخـــت ووايـــي لكـــه د جمعـــي پـــه ورځ،مـــازديګر ۴ بجـــی بـــه ســـره ووينو.نـــو دلتـــه بيـــا هغه ته دا نه معلوميږي چي چيري سره ګورو.

د فضـــاء او وخـــت يـــو ځـــاي كولـــو بغيـــر د يـــوي واقعـــه پيژنـــدل ناممكنه ده.

لكــه څرنګــه چــي مــا مخكــي وويــل فضــائ وخــت څلــور بعــدي دي د كـــوم څلـــور بعـــده يوځـــاي كـــول زمـــوږ لپـــاره ناممكنـــه دي.مـــوږ بـــه د فضـــاء وخـــت د دوه بعـــدي ګـــراف لـــه پلـــوه پيژنـــو پـــه كـــوم كـــي چـــي د x محـــور فضـــاء را پيژنـــي او د y محـــور وخت.


(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه څرنګه چي فضاء او وخت سره مښتي دي سره يو ځاي دي.کوم شي چي په فضاء کي حرکت کوي هغه په وخت کي هم حرکت کوي.د نور معلومات دمخه راسي چي يو څه د فضاء وخت د ګراف د اساس په اړه يو څه ووايو.


فرض يى کړي چي يوه ريلګاډي د کابل څخه مزارشريف ته يا کوم بل ښار ته ځي.که چيري ددي حرکت يوازي د فضاء په محور وښويو نو ګراف به يي په لاندي ډول وي.

Movement in space



او که حرکت د وخت په محور وښويو نو ګراف به يي په لاندي ډول وي.


Movement in time



مګر دا دواړه مکمل معلومات نه راکوي.نو په همدي خاطر که د فضاء وخت ګراف جوړ کړو نو ګراف به يي په لاندي ډول وي.


Movement in space

time



(c) ketabton.com: The Digital Library






ډېر ساينس پوهان دا دنيا ته په هغه نظر نه ګوري کوم چې يو عام انسان يې ګوري.د يو عام انسان لپاره دا دنيا د يو فلم په څير ده مګر ساينس پوهان دا برخه په برخه ګوري.راسي چې وپيژنو څنګه؟

کله چې موږ يو تالاب ته يوه ډبره وغورځوو، نو موږ ته په اوبو کې جوړي شوي څپې په نظر راځي.دا يو عام پيښه ده چې موږ تاسو د ژوند په جريان کې زيات ليدلي دي او که چيري دغه پيښې ته په ځير سره وګوړو نو دا به يو څه دا رکم وي.

کله چې موږ ډبره وغورځول هغه وخت هيڅ هم نه وشوه،يوه ثانيه وروسته يوه څپه جوړه شوه،دوی ثانيې وروسته دوي څپي او درې ثانيې وروسته دري څپي.

که دغه شکل ته موږ په ځير سره وګورو دا د يو مخروط شکل دي.په دی ګراف کې موږ د درو ثانيو وخت ځانته معلوم کړ او که چيري غواړي ددي په راتلوونکي ځان پوه کړي نو دا نور هم رسم کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــــه عــــام ډول دا مخـــــروط د فضـــــاء وخـــــت د تيـــــوري پلوشـــــه ده. کـــــه چيـــــري مـــــوږ ددی وخـــــت موقعيـــــت ســـــرچپه کـــــړو نـــــو دا مخـــروط بـــه ســـرچپه ســـي او مـــوږ تـــه بـــه ددي پيښـــي تيـــر وخـــت رامعلوم شي.دغه مخروط ته موږ نوري مخروط وايو.


لکه په دغه شکل کي.

البرټ اينستاين وايلي دي:

زمـــوږ د فزيـــک پوهـــانو لپـــاره د تير،اوســـني او راتلـــوونکي تـــر مـــنځ بيلتـــون يـــوازې يـــو فريـــب دی،کـــه څـــه هـــم يـــو قـــانع کـــوونکی دی.

نـــو اوس تاســـی دا فکـــر کـــوي چـــي تير،اوســـنی او راتلـــوونکی هميشـــه وجـــود لـــري نـــو دا دنيـــا مـــوږ تـــه ولـــي تـــل پـــه حرکـــت کـــي معلوميږي.راځو دا به هم وڅيړو.

کلـــه چـــي مـــوږ کومـــه ويـــډيو ګـــورو دا مـــوږ تـــه پـــه حرکـــت کـــي معلـــوميږي، مګـــر پـــه اصـــل کـــي داســـي نـــه وي هغـــه د څـــو عکســـونو يوځـــايوالی وی کـــوم چـــي ژر ژر زمـــوږ مختـــه ښکاره کوي.




مثـــــال بـــــه د يـــــو ټوټـــــه دړی ورکړو،پـــه دی ټوټـــه دړه کـــي څـــو ځپـــي دي چـــي د يـــو څـــو فټبـــالرانو عکســـونه پـــه کـــي جـــوړ شـــوي دي،کـــه چيـــري مـــوږ دغـــه ځپـــي جـــلا جـــلا وګـــورو نـــو پـــه دی کـــی د يـــوازې فټبـــالرانو ولاړ عکســـونه دي او کـــه دغـــه عکســـونه تاســـو پـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیزي سره وړاندي کړي نو دغه به تاسو ته د یو ویډیو په څیر ښکاره سي.تاسو ته به داسي ښکاري چي تاسو د فټبال د بازي یوه ویډیو ګوري.په دغه وخت څپي هم په خپل پخواني ځاي وجود لري،خو یوازې ستاسو د لیدو طریقه بدله شوي.

امید لرم چي تاسو به د فضاء وخت پیژندلی وي.اوس سوال دا پیدا کیږي چي ددي ګراف د جوړولو فائده څه ده؟

ددی فائده دا ده چي موږ د یوي پیښی کوچني ګراف په جوړولو سره د هغه د راتلوونکی په اړه معلومات تر لاسه کولای شو او د هغه د تیر وخت دا هم،شه مثال یي لویه چاودنه ده.د نني کاینات دغه شکل د فضاء وخت د دیاګرام په جوړولو سره موږ په آساني سره دا وایلای سو چي دا په تیر وخت کي څه ډول وو او بیا په راتلوونکی کي به څه ډول وي.په همدي اساس د یو سیاري د ګراف په جوړولو سره دا وایلي سو چي د نن څخه ۱۰ کاله د مخه دا په کوم ځاي وه او لس کاله وروسته به په کوم ځاي وي.

نو آیا نه دي دا سپیس ټایم ګراف په زړه پوري ،ددي ګراف په واسطه موږ اوس دا فضاء په مکمل ډول وپیژنده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د فضاء د يخوالي لامل:

په سوال کي ډير طاقت وي او په دا نړدي تير وختونو کي ځيني ساينس پوهانو داسي سوالونه کړي د کوم جوابونه چي نړۍ بدله کړي ده.

همداسی يو سوال سل کاله دمخه يو ساينس پوه وکړ.د نن څخه سل کاله دمخه موږ به شم يعني مومبتي لګوله او رڼا به مو ورڅخه لاسته راوړه تيل به مو سوځاوه او او رڼا به مو لاسته راوړه.بيا يو ساينس پوه راغلي او هغه داسی يو سوال يي وکړ چي آيا موږ سره داسی کومه بله طريقه نسته چي بغير د تيل د سوځولو او د بغير د مومبتي د لګولو څخه موږ رڼا لاسته راوړو؟

هغه په دا سوال باندي کار کول شروع کړ او لس زره تجربي يي وکړي. کيداي سي هغه تر ما تاسي شه پيژني د هغه نوم تومس ايډيس وو،او بيا هغه موږ ته يو ګروپ راکړ. نن دا ګروپ هر ځاي کي موجود دي.په هر کور کي،په هره کوټه کي چي موږ کښينو په هغه ځاي کي دوه،څلور،اته يا لس داني دا ګروپونه موجود وي.نو موږ ته اوس دا ښکاره شوه چي په يو سوال کي څومره طاقت وي او هغه نړۍ څنګه بدله کولاي سي.

نن زه په يو داسي سوال باندي کار کوم چي ډير اړين دي.سوال دا دي چي لمر په فضاء کي موجود دي او په داهم پوهيږو چي دا څومره ګرم دي او د لمر په څير په فضاء کي نور هم غټي او ګرمي او روښانه سياري موجود دي کوم چي شمير يې موږ ته نه معلوميږي،نو بيا فضاء ولي يخه وي؟سوال ډير اړين دي او جواب يي هم.

(c) ketabton.com: The Digital Library




زمــوږ پــه کاینــات کــي پــه بلیــانو ســتوري او ســیاري موجــود دي او دا ســـتوري او ســـیاري زمـــوږ کاینـــات را ګرمـــوي مګـــر بیـــا هم د فضاء د تودوخي درجه کمه ولي وي.

مـــوږ تاســـو د تـــودوخي د انتقـــال حالاتونـــه وایلـــي دي دلتـــه لـــږ بحث پر کوو.

**اول:** هدایت:

پــه دي طریقــه کــي تاســي د یــو ګــرم شــي ســره پــه اړیکــه کــي وي.نــو کلــه چــي تاســي لــه ګــرم شــي ســره پــه اړیکــه کــي اوســي نــو تودوخــه د یــو ځــاي څخــه بــل ځــاي تــه تلــل یــا انتقــال شــروع کړي




د هدایت په طریقه کي د تودوخي انتقال

**دوهم:** بهیر:

پــه دغــه طریقــه کــي مــاده حرکــت کــوي او د مــادي مالیکولونــه سره مبنلي او تودوخه رامنځته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





پــــه کوټـــــه کــــي د ســــړه او د توده هوا انتقال

**دريــم:** تشعشــــع:د برقــي مقناطيســـي وړانګــو لـــه وجهـــي تودوخـــه له يوه ځاي څخه بل ځاي ته حرکت کوي.



د تشعشــــــع پــــــه اثـــــر د لمـــــر د تودوخي انتقال

اوس چـــي مـــوږ د فضـــاء خبـــره کـــوو چـــي پـــه فضـــاء کـــي تودوخـــه لـــه يـــو ځـــاي څخـــه بـــل ځـــاي تـــه ځنګـــه انتقاليږي،هغـــه د تشعشـــع له لاري.


مثـــال د دوو ځپـــو يـــا مخونـــو دا ورکوو،يـــو ډامبـــر دي او بـــل هنداره.

ډامبر:مـــوږ پـــه لانـــدي عکـــس کـــي وينـــو چـــي کـــومي وړانګـــي چـــي پـــه ډامبـــر لګيـــږي هغـــه زيـــاتي دي او کـــومي وړانګـــي چـــي د بانـــدي ځـــي يعنـــي انعکـــاس کـــوي هغـــه لـــږ دي،يعنـــي دا پـــه ځـــان


(c) ketabton.com: The Digital Library



کـــي وړانګـــي جـــذبوي ګرميـــږي ددي د تـــودوخي درجـــه زياتيږي



هنداره:پــه دغــه لانــدي عکــس کــي چــي کــومي وړانګــي راځــي هغــه تــه نــږدي انــدازه بيرتــه خــارجيږي يعنــي کومــه تودوخــه چــي دننــه راځــی زياتــه انــدازه يــي بيرتــه انعکــاس کــوي.ولي دا يو يخه ځيه ده تودوخي درجه يي ډيره نه زياتيږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس که دغه بیان ورکړو چي فضاء یخه ده او که نه دا په قانوني لحاظ سمه نه ده.ولي چي دا یو خالیګاه ده پراخ ځاي دي یعني واکیوم،او په دا واکیوم کي نه اټوم وي او نه مالیکولونه. په همدي خاطر موږ دا نه سو وایلاي چي فضاء یخه ده او که ګرمه ولي چي د هغه د تودوخي خصوصیات پاینت نه کوي.موږ دا وایلاي سو که موږ په فضاء کي یوه ماده ځاي پر ځاي کړو که هغه د اوسپني یو سیخ وي یا هم هغه ځمکه وي یا هم ډیر غټ ستوري یا سیاره وي نو ددي د تودوخي درجه به ځومره وي،ولي چي په دي کي به هم مالیکولونه وي او هم اټومونه،هغه به تودوخه انتقالوي او تودوخه له یو ځاي څخه بل ځاي ته به حرکت کوي.

نو په دي ذکر شوو شیانو باندي موږ کتلاي سو چي د هغه د تودوخي درجه به زیاته وي او که کمه .مګر فضاء په خپله تودوخه نه لري او دا صفت د فضاء نه دي.نو موږ باید دا بیان سم کړو او موږ به یوه تجربه وکړو په کوم چي ناسا یو څه عمر دمخه د فلزاتو یوه ټوټه فضاء کي کیښوده او بیا هغه مطالعه کړل سو،نو کله چي دوي دا فلز لمر ته مخامخ کیښود د لمر وړانګي مستقیم په دغه فلز ولګیدي نو د تودوخي درجه یي ډیر زیات په لوړیدو شوه.تر ۲۶۰ سانتیګریډه پوري تودوخه ورسیده او دغه فلز تود او سور شو.بل طرف ته ددغه فلز هغه خوا کوم چي د لمر و طرف ته نه وه نو د هغي د تودوخي درجه په کمیدو شوه او د هغه خوا د تودوخي درجه منفي ۱۰۰ سانتیګریډه پوري ورسیده.هغه خوا چي د لمر و طرف ته وه هغه ۲۶۰ سانتیګریډه وه او هغه خوا چي د لمر و

(c) ketabton.com: The Digital Library



طرف ته نه وه هغه منفي ۱۰۰ سانتيګرېډه پوري وه.دا ډېر غټ د تودوخي ډلتا يا فرق دي كوم چي په دغه فلز كي رامنځته شو او زمونږ فضاء ته ختوونكي(كيهانيان)كله چي فضاء ته خيږي نو هغه بايد دا تودوخه برداښت كړي او ددي لپاره دوي ته خاص لباس وركول كيږي په كوم كي چي د ګرمي سيستم هم موجود وي او د يخني دا هم.

د ګرمي سيستم په دا خاطر وي كله چي دوي فضاء ته وخيږي او د لمر وړانګي دوي ته مستقيم نه ورځي نو د ګرمي د سيستم څخه استفاده كوي.

د يخني سيستم په دا خاطر وي كه دوي لمر ته مخامخ نه سي نو دوي بيا له دغه سيستم څخه استفاده كوي.

كه مونږ د خپلي ځمكي خارجي سطحی ته ولاړسو،اتموسفير ته ولاړ سو،فضاء ته ولاړ سو نو هلته به تودوخي درجه منفي ۲۷۰ celcusوي. كله چي مونږ مصنوعي سپوږمكۍ جوړه وو نو مونږ د مادي توتي هم استعمالوو او ځيني داسي د مادې برخي وي چي لمر ته مخامخ راتلاي شي نو د هغوي لپاره مونږ انسوليژن يعني (لمر ته اينودل )جوړه وو.

انسوليټر:د تودوخي تنظيمونكي دي كوم چي مصنوعي سپوږمكۍ له تودوخي څخه ساتي.

## مطلق صفر:

دا هغه نظري يا خالص علمي اندازه ده د كوم څخه چي كښته تودوخه نه سی تلاي.دده آخري اندازه منفي ۲۷۳،۱۵ سانتيګريډه ده. له دغه اندازي څخه كښته په علمي توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تودوخـــه نـــه ســـی تـــلاي او دا د تـــودوخي هغـــه درجـــه وي پـــه کـــوم کـــي چـــي اټومونـــه عجـــب او غريـــب حرکـــت کـــوي.
پـه سـاده توگـه زمـوږ سـره چـي کـوم اټومونـه سـته هغـه پـه بيرتـه توگـه ځرخـي او لکـه چنګـه چـي مـوږ هغـه اټومونـه يـخ کـو نـو هغـه مطلـق صـفر تـه نـږدي ورسـي نـو تودوخـه يـي ډيـره کمـــه شـــوي وي او د هغـــه حرکـــت صـــفر شـــوی وی.
مـاده کـه هـر ځـومره لمـر تـه نـږدي کيښـودل شـی نـو د هغـه د تـــودوخي درجـــه بـــه ډيـــره لـــوړيږي يعنـــي لـــوړه بـــه وي او کـــه هـــر ځـــومره ځينـــي ليـــري کيښـــودل شـــی هغـــومره د تـــودوخي درجـــه يـــي کميـــږي زمـــوږ ســـره يـــي غـــوره مثـــال مرکـــــری(pluto)دی.مرکـــــری د تـــــودوخي درجـــــه منفـــــي ۲۴۰ ســـانتيگريډه ده مگـــر مـــوږ بـــه لـــه دغـــه ځخـــه بـــه هـــم مختـــه ولاړ ســو مــوږ يــو داســي وريــځ تــه ولاړ ســو کــوم چــي پــه فضــاء کــی ليـــدل کيـــږي او د تـــودوخي درجـــه يـــي منفـــي ۲۵۰ ســـانتيگريډه وي مگــر پــه فضــاء کــی ځينــي داســی ځايونــه هــم ســته چــي تـــودوخي درجـــه يـــي منفـــي ۲۷۰،۴ ســـانتيگريډه وي دا د منفـــي خبـــره ده يعنـــي منفـــي ۲۷۰،۴ ســـانتيگريډه دا ډيـــره يخـــه د تـــــــــــــــــــــودوخي درجـــــــــــــــــــــه ده.
ځمکـه تـل د خپـل مـدار پـه شـاوخوا ځرخـي يعنـی زمـا مطلـب بيضـوي حرکـت دي کلـه چـي ددي يـوه خـوا لمـر تـه مخـامخ وي نـو د هغـه خـوا د تـودوخي درجـه زياتـه وي او هغـه خـوا چـی لمـر تـه مسـتقيم نـه وي د هغـه د تـودوخي درجـه کمـه وي نـو لکـه ځرنګـه چـي دا ځرخي،حرکـت کـوي نـو دويمـه برخـه يـي لمـر تـه مسـتقيمه کيـږي نـو پـه دا حالـت کـي پـه دويمـه برخـه کـــی بـــه يـــي تودوخـــه زياتـــه او اولـــه کـــی بـــه کمـــه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چیري ځمکه خپل دا حرکت ونه کړي نو په ځمکه باندي به مستقیم په یوه برخه باندي به لمر وي یعني قائم ورځ به وي شپه به هیڅ نه وي او په بلي برخي باندي به یي قائمه شپه وي.په کومي برخي چي به شپه وي د هغه د تو دوخي درجه کرار کرار په کمیدو به وي او په کومي برخي چي به ورځ وي هغه به توده وي یعني تودوخه به یي زیاته وي یا مخ په لوړیدو به وي او په دغه ډول د تودوخي په درجه کي به ډیر بدلون راسي نو په هم دغه خاطر د ځمکي په خپل مدار په شاوخوا بیضوی حرکت کول ډیر اړین دي تر څو ددغه تودوخي د درجي بدلون له منځه یوړل سی.

اوس به موږ د یوي کوټه تجربه وکړو تر څو په دغه پوه سو چي په فضاء کي د مادې تودوخه ولي کمه وي؟

یوه کوټه ده او په هغه کي یوه بخاري موجوده ده موږ چي کله دغه کوټي ته داخل شوو نو زموږ یخ وسی ولي چي تودوخه ډیره کمه وه نو کله چي موږ بخاري ولګوو نو کرار کرار وخت تیریږي دا بخاري تودوخه رامنځته کوي او تودوخه خونه(کوټه)ګرموي مګر هغه وخت چي موږ دغه خونی ته داخل شوو او زموږ یخ وسو د تودوخي درجه ډیره کمه وه ددي کمیدو لامل څه وو ستاسو په دماغ کی به کوم خیال وی چي آخر لامل یي څه دي په خونه کی بخاري هم لګیدلی وه او په دغه خونه کي تاسي دا وایلاي سی چي لمر هم سته نو تودوخه ولي دومره ټیټه ده.

دوه رقم لاملونه به ستاسو په دماغ کی به راځی

اول لامل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



اول دا چې خونه اول يخه وه او موږ بخاري يو لږ وخت د مخه ولګول نو په دی خاطر بخاري اوس خونه په مکمل ډول سره نه ده توده کړي.دا زموږ اول لامل وو خو موږ بل لامل هم لرو چې هغه زموږ دوهم لامل دی

دوهم لامل:

دوهم لامل دا دي چې کيدای سی خونه د بغلو له خوا کرار کرار غتيږي.که چيری موږ همداسی يوه خونی ته ولاړ سو چې کرار کرار غتيږي نو د بخاري او زموږ تر منځ فاصله زياتيږي او په خونه کي بيا زياته هوا راسی.نو دلته د هغه د ګرمولو لپاره يو څه وخت خو په کار دي.

دوه شيانه موږ وايلاي شو( ۱ )دا چې بخاري مو لږ وخت دمخه ولګول (۲)دا چې خونه غتيږي(اکسپينډ کوی)او د خوني د پراخيدو له وجهي د هغوی تر منځ چې کوم شيان دی په هغوي کي چې کومه فاصله ده هغه زياتيږي

اوس سوال دا دي چې دغه تجربه ولي وکړه؟

ځکه چې اوس موږ داغه تجربه وړو فضاء ته.لکه څرنګه چې ما مخکي يادونه وکړه په فضاء کی په مليياردو سياري سته او هغوي زموږ کاينات يعنی دغه فضاء راګرموي مګر موږ ته بيا هم دا معلومه ده چې د فضاء د تودوخي درجه کمه ده.که چيري په هغه کی فلزي کوم شی کيښودل شي نو هغه ډير ژر يخيږي.نو ددي وجهه دا ده چې فضاء کرار کرار غتيږی د فضاء فاصله ډيريږی په همدی خاطر د لمر او ځمکی تر منځ فاصله زياتيږي،د لمر په څير چې کومی نوري سياري دي د هغوي فاصله يو د بل تر منځ زياتيږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنډه به وکړم چې په فضاء کې هر څومره مادي شیان سته هغه ټوله وار په وار په یخیدو دي.اوس موږ ته دا معلومیږي چې دا طریقه چې ده که دا موږ نسکور کړو،سرچپه یې کړو،په ریورس یې یوسو نو یو وخت داسې وخت هم وو چې دا ټوله کاینات یو صفر وو،یو ګول شکل وو کوم چې موږ لوی چاودنه یعني big bang ورته وایو او ددی کتاب په سر کې مې یادونه یې کړی ده.
نو یوه خبره خو داسوه چې فضاء غځیږی او ددي ثبوت موږ ته د ډایلر اثر( (dialer effect ځخه راکول کیږي.
کله چې موږ فضاء کې ستورو ته ګورو نو کله چې هغه موږ ته په سور رنګ ښکاره سی نو ددي مطلب دا دي چې هغه زموږ څخه لیري ځي.
نو فضاء کرار کرار غځیږی هغه فلزي شیان چې په کښې موجود دی هغه یخیږي.
دوهمه خبره مې دا هم کړي وه چې په فضاء کې نه هم اټومونه سته او نه هم مالیکولونه یوازي خالیګاه ده یعني خالی ځاي.نو په همدي خاطر تودوخه له یو ځاي څخه بل ځاي ته نه انتقالیږی نه د هدایت له لاري نه د بهیر له لاري یوازي تشعشع ده د کوم له لاري چې دا تودوخه انتقالوي.
اوس موږ ته دا معلومه شوه چې فضاء کې فلزي شیانو د تودوخي د کمیدو لامل دا دي چې یو خو فضاء پراخیږي او بل خالیګاه ده او د فضاء د یخني لامل هم همدا دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د فضاء د تورو الي لامل:

کله چې موږ د فضاء و طرف ته ګورو نو هغه ولې موږ ته توره ښکاري. په ځینې ځایو کې د نور سکیټرین وینو مګر بیا هم فضاء موږ ته توره معلومیږي.تاسې دغه لمر ته وګوري لمر د رڼا ځرچینه یا منبع ده مګر د لمر څخه په یو څه لیري تلو سره هغه فضاء موږ ته توره ښکاره کیدل شروع سي. که چیري فضاء توره نه واي نو زموږ په دنیا مې به شپه نه واي.په همدي خاطر لحاظا دا سوال هم جوړیږي چي شپه ولې وی.

ددي تولو سوالونو جوابونه پیدا کولو لپاره اول ځینې مفکوري وایو او په دي کې چې تر ټولو اوله مفکوره چې وایو هغه ده پیراډوکس یعني هغه وینا چي په ظاهر کي غلطه وي خو کیدای سی سمه وي یعني متناقضه غوندي وینا.

دا یو داسې بیان دی کوم چي د خپله ځانه فیصله کوی.مثال زه تاسو ته دوه عکسونه وړاندی کوم او تاسې به په دغه عکسو کې مختلف بیان ووینې



(c) ketabton.com: The Digital Library



د نـن څخـه ۱۰۰ کالـه دمخـه انسـان دا فکـر کـاوه چـي زمـوږ فضـاء بـی حرکتـه ده،زمـوږ فضـاء د جمـود ښـکار ده.زمـوږ پـه فضـاء کـی ۱۰ ملیـارده کهکشـانونه دی پـه یـوه کهکشـان کـی سـل ملیـارده سـتوري سـته کـه مـوږ یـی اوسـط جـوړ کـړو نـو زمـوږ پـه فضـاء کـي د مشـاهدي پـه توګـه دا وخـت یـو ملیـارد یـا یـو تریلـون سـتوري موجـود دي.کـه چیـري فضـاء بـی حرکتـه ده او دومـره زیـات سـتوري پـه کـی موجـود دي نـو مـوږ تـه خـو بایـد پـه آسـمان کـي هـر ځـاي سـتوري ښـکاره کیداي،ټولـه خـواو تـه بایـد رڼـا واي د شـپي مفکـوره یـا مفهـوم بایـد وی لا نـه.


آیـا فضـاء بایـد چـی تـوره یـا تـور رنګـه وي؟ دا سـوال لـومړي ځـل لپـاره د جرمنـی نجـوم شـناس و دمـاغ تـه راغلـي کـوم چـي هینـریچ ویلـیم اولبـرخ نومیـده دغـه وینـا تـه مـوږ اولبـرخ متناقضـه غونـدي وینـا هـم وایـو. ده دا وایلـي دی کـه زمـوږ فضـاء بـی حرکتـه ده نـو بایـد چـي مـوږ تـه د دومـره زیـات سـتورو د موجودیـت لـه وجهـي هـر طـرف تـه بایـد رڼـا ښـکاره کیـداي هـر طـرف تـه سـتوري بایـد ښـکاره کیـداي فضـاء بایـد چـی تـوره نـه واي.دا دواړه شـیان یـو لـه بلـه سـره متضـاد دي.

نـو مـوږ دغـه فکـر کـاوه چـی فضـاء(کاینات)لایتناهي،بی حرکتـه او آبـدی ده مګـر د فضـاء تـور رنـګ دغـه وینـا غلطـه ثابتـه کـړه او مـوږ تـه دا معلومـه سـوه چـي بـی حرکتـه او آبـدی دا دواړه ملکیتونـه زمـوږ پـه کاینـات کـی موجـود نـه دي.زمـوږ فضـاء بـی حرکتـه نـه ده ځکـه هغـه پراخیـږی او آبـدی بیـا ځکـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه ده ولی چي يو وخت داسی وخت هم وو چي ددي پيل شروع سو او يو وخت به داسي وخت به هم راسي چي ددي پاي به هم کيږي.
دا دواړه شيان موږ ته يو بل ستاره شناس راوشول کوم چي ايډوين پوويل هوبل نوميده او هغه دا راته وويل چي زموږ کاينات د وخت په تيريدو سره پراخيږي،ددي مطلب دا دي چي که چيري موږ ماضي (تير وخت) کی ولاړ سو نو يو وخت به داسی راسی چي ددي کاينات پيل شوي وو په همدي خاطر دا آبدي نه ده او لکه څرنګه چي دا پراخيږي نو بی حرکته نه ده او په همدي طريقي سره چي پراخيږي نو دا لايتناهي هم نه ده که چيري دا لايتناهي وای نو دابه دومره زيات نه پراخيداي.
اوس موږ دا وپيژنده چي زموږ کاينات پراخيږي د وخت سره مګر موږ به ولاړسو د لوی چاودني وطرف ته ۱۴ مليارده کاله مخکي کله چي يو ډير طاقتوره چاودنه وشوه او ټوله کاينات هغه وخت چي د هغه کوم سايز وو هغه ټوله کاينات د هغه چاودني څخه پيدا شوي روښنايی څخه ډکه سوه که چيري هغه وخت موږ داغه کاينات ته کتلاي نو ټوله خواو ته به اور په نظر راتلاي په کومه طريقه سره چي زه تاسو په لاندي عکس کی درښوم



اوس تاسو فکر وکړي هغه وخت چي زموږ کاينات کوم


(c) ketabton.com: The Digital Library



چـــي د ډيـــر لـــږ عمـــر وه هغـــه وخـــت مـــوږ تـــه پـــه ژړ رنـــګ ښـــکاره کيـــده،د ليـــدلو وړ نـــور بـــه مـــوږ تـــه پـــه نظـــر راتلـــه او دا هغـــه نـــور وو کـــوم چـــي د چـــاودني لـــه عملـــه مـــوږ تـــه پـــه نظـــر راتلـــه.کرار کـــرار فضـــاء پـــه پراخيـــدو ســـوه دلتـــه پورتـــه شـــکل کـــــی ګـــــوري چـــــي فضـــــاء پراخيـــــږي. ددي د پراخيـــــدو لـــــه وجهـــي د ژړ رنـــګ نـــور يـــا رڼـــا د څپـــي اوږدوالـــي هـــم پـــه پراخيـــدو شـــروع ســـو او د ژړ رنـــګ د څپـــی اوږدوالـــي چـــي زيـــات ســـو نـــو کـــرار کـــرار د ســـور رنـــګ ولـــوري تـــه ولاړه اوس زمـــوږ کاينـــات ســـور رنـــګ ځانتـــه واخيســـت کـــرار کـــرار نـــور هـــم ســـور رنګـــه شـــوه او د هغـــه وروســـته د زيـــات پرخيـــدو لـــه املـــه د وړانګـــو پـــوتنی ســـور ريـــژن کـــی ولاړه لکـــه پـــه پورتـــه شـــکل کـــي چـــی ګـــوري.د هغـــه وروســـته د وخـــت ســـره دا وړانګـــي د پراخيـــدو ســـره،د فضـــاء د پراخيـــدو لـــه وجهـــی ددي څپـــي د اوږدوالـــي لـــه وجهـــي مـــايکرو ويـــف ريـــژن کـــی ولاړه او نـــن چـــي مـــوږ دغـــه وړانګـــی تـــر لاســـه کـــوو هغـــه مـــوږ تـــه پـــه مـــايکرو ويـــف ريـــنج کـــی پيـــدا کيـــږی چاتـــه چـــي مـــوږ کوږميـــک مـــــــــايکرو ويـــــــــف بيکګراونـــــــــډ وايـــــــــو.

(c) ketabton.com: The Digital Library







داغه عکس چې ما تاسو ته مخکې ښکاره کړ نو تاسي وګوري چې بیل بیل ځایونو کې بیل بیل وړانګې را پیدا کیږي.

نو په همدی خاطر کله چې تلویزون چالاند کړو نو موږ ته غږهاري را په غوږ کیږي او دا غږهاري آواز د کوزمیک مایکرو ویف بیکګراوند د وړانګو له وجهې وی مګر زموږ ځمکې ته دغه وړانګې له هره ځایه راځي او دا وړانګې د نن څخه ۱۴ ملیارده کلونه مخکې جوړي شوي کوم وخت چې لویه چاودنه وشوه.نو په همدي حساب سره دا وایلاي سو چې دا د هغه وخت وړانګې کرار کرار په پراخیدو سره دا وخت موږ ته په مایکرو ویف ریژن کې په نظر راځي او خپل رنګ یې له لاسه ورکړي.او د هغه سره سره یو بل اغیز به هم وپیژنو.

(c) ketabton.com: The Digital Library






په پورتــه شــکل کــي مــي وشــودل چــی زمــوږ ځمکــه پــه مــنځ کــي وه او کلــه چــي لويــه چاودنــه وشــوه نــو هــري خواتــه اور وو او دا وخــت کلــه چــي مــوږ پــه ځمکــه کــي کوزميــک بيکګراونــډ وړانګــي تــه ګــورو نــو هغــه تقــربن ۱۳،۸ مليــارده کالــه مخکــي جــوړ شــوي، کلــه چــي زه يــو دايــره يــي جــوړه کــړم نــو دا دايــره لــــه ځمکــــي څخــــه ۱۳،۸ مليــــارده کالــــه ليــــري ده اود دغــــه دايــري هــری خــوا تــه موجــوده وړانګــي اوس مــوږ تــه پــه لاس نــــــــــه راځــــــــــی پــــــــــه ځمکــــــــــه کــــــــــي.


ددی د ډيــر زيــات تشــريح کولــو ســره زه بــه تاســو تــه دا ووايــم چــــي دا هغــــه دايــــره ده د کــــوم څخــــه چــــي دا جــــوړ شــــوی کوزميــک مــايکرو ويــف بيکګراونــډ وړانګــي ډيــر عمــر دمخــه تيــري شــوي مــوږ هغــه نــه ســو ليــدلاي ولــي چــي هغــه زمــوږ د راتلــو څخــه دمخــه تيــر شــوی دي.پــه هــم دغــه طريقــي ســره دغــه دوهمــي دايــري تــه وګــورو کــوم چــي مــي پــه ۳۳ مــخ کــي بشــــودلي دي. نــــو ددی ريــــژن څخــــه راغلــــي مــــايکروويف بيکګراونــډ وړانګــي نــن مــوږ تــه پــه ځمکــه کــي تــر لاســه کيــږي. مګــر ددی شــاته چــي کومــه دايره(دريمــه دايــره)ده ددی څخــه جــوړ ســوي مــايکروويف بيکګراونــډ وړانګــي مــوږ تــه بــه پــه لاس نــه ســي را ولــی چــي هغــه تــر اوســه پــوري مــوږ تــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



رارسیدلي نه دي نو مورږ یوازي دا دوهمي دایري ته ګورو ددي دمخه اوله دایره کی کوم وړانګي جوړي شوی وي د اول ریژن څخه هغه زمورږ د ژوند څخه مخکي تیر سوي دي،د دوهمي دایري وړانګي چي دي هغه مورږ ته په لاس راځي او ددی شاته چي هر څومره وړانګي سته هغه به مورږ تر لاسه نه کړو ولي چي هغه تر اوسه مورږ ته رارسیدلي نه دي کیدای سی په راتلونکي کی مورږ ته یا نورو نسلونو ته ور ورسیږي.




دا شیان هغه وخت نور زیات په زړه پوري سی کله چي مورږ ته مایکروویف بیکګراوند وړانګي راځي او مورږ هغه تحلیل کړو نو مورږ ته دا معلومه سی چي دا یوازي ۴۲ میلیونه نوري کاله مخکي جوړ شوي.مګر مورږ ته په رارسیدو سره ۱۳،۸ ملیارده نوري کاله ولګیده لکه په

(c) ketabton.com: The Digital Library




پورتـــه شـــکل کـــي چـــي تاســـو ويني.ملګـــرو دا ۴۲میلیونـــه نـــورې کالــه مخکــي جــوړ شــوي مګــر مــوږ تــه پــه رارســیدو ســره ۱۳،۸ ملیــارده نــورې کالــه ولګیــده. ددي لامــل د فضــاء پراختیــا ده ولــي فضــاء خــو هــم پراخیــږي نــو وړانګــو تــه تــر مــوږ پــوري پــه رارســیدو ســره زیــات وخــت ولګیــږي چــي او هغــه تــه ۱۳،۸ ملیــارده نــورې کالــه ولګیــده دا ډیــر مهــم نکتــه ده کــوم چــي تاســو بایــد فکــر پــه وکــړی نــو اوس مــوږ ۱۳،۸ ملیــارده نــورې کالــه جــذب کــولاي شــو، ۱۳،۸ ملیــارده نــورې کالــه پــوري کــتلاي شــو.مګر مــوږ تــه دا معلومــه ده چــي فضــاء پراخیــږي او چــي فضــاء پراخیــږي نــو ســتوري او نــور شــیان یــو لــه بلــه لیــري ځــي او چــي ســتوري او کهکشــانونه یــو لــه بلــه لیــري ځــي نــو د کــوم دایــري چــي مــوږ خبــره کــړي وه کــوم چــي ۱۳،۸ ملیــارده نــورې کالــه لیــري ده هغــه خــو هــم زمــوږ ځخــه کــرار کــرار لیــري ځــي او کلــه چــي مــوږ داغــه دایــري تــه اوس ګــورو او ورســره نــور اغیزونــه لکــه ډارک انــرژي کــوم چــي شــیان پراخــوي هغــه تــه وګــورو چــي دا دریمــه دایــره د مشــاهدي وړ کاینــات ســرحد زمــوږ ځخــه ۴۶ ملیــارده نــورې کالــه لیــري ده. پــه همــدي خــاطر خلــګ پریښــانه ســی چــي زمــوږ کاینــات خــو ۱۴ ملیــارده کالــه مخکــي جــوړه شــوي وه او نــن مــوږ ۴۶ ملیــارده نــورې کالــه پــوري لیــدلاي شــو او ددی لامــل زمــوږ د کاینــات پراختیــا ده نــو کلــه چــي زه د اوس خبــره کــوم نــو مــوږ تــه چــي کــوم کوزمیــک مــایکرو ویــف بیکګراونــډ وړانګي د مشاهدي وړ لړیَ کوم چي موږ لیدلاي شو

هغه ۴۶ ملیارده نورې کاله دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library






ددي سره سره موږ باید دا هم په یاد ولرو چي فضاء پراخیږي نو اوس که چیري فضاء پراخیږي نو یو ستوري کوم چي ما په عکس کي ښودلي دي کرار کرار ددغه ستوري او د ځمکي تر منځ فاصله د فضاء د پراخیدو له عمله زیاتیږی هغه ستوري کرار کرار لیري کیږي او بیا دغه ستوري د هغه مودې څخه به لیري ولاړ سی د کوم څخه چي د هغه رڼا یي تر موږ به نه راورسیږي او ورسره بیا موږ هغه ستوري لیدلاي هم نه سو او د هغه لامل دا دي چي فضاء په ډیر تیزي سره مخ په پراخیدو ده.موږ په یوه ثانیه کي ۲۲۰۰۰ ستوري له لاسه ورکوو،د هغوي لید له لاسه ورکوو هغه د هغه مودې څخه لیري لاړسی په کوم کی چي پخوا دغه ستوري موږ لیدلاي شواي.نو په همدي لحاظ ډیر ستوري او کهکشانونه زموږ له لړی څخه د باندي ځي. یو وخت به داسی وخت راسي چي موږ به خپل کهکشان او زموږ د بغل کهکشان ایندرومیډا به لیدلاي شو،د هغه ستوري به لیدلاي شو.د دوي علاوه په آسمان کي به بیا هیڅ شي به هم موږ ته په نظر نه سی را.نو اوس چي فضاء پراخیږي نو کهکشانونه


(c) ketabton.com: The Digital Library



ســـــره ورکيږي،ســـــتوري ورکيـــږي او دهغـــه ليـــد کـــرار کـــرار خـــتم کيـــږي او پـــه همـــدي طريقـــي ســـره کـــومي وړانګـــي چـــي مـــوږ تـــه راځـــي د هغـــوي د څپـــو اوږدوالـــي غځيـــږي يـــا زيـــاتيږي.نو پـــه همـــدي خـــاطر د ليـــدو وړ نـــور څخـــه پـــه تيريـــدو ســـره پـــوتني ســـور او مـــايکروويف ريـــژن تـــه رســـيدلي کـــوم چـــي مـــوږ پـــه ســـترګو نـــه شـــو ليـــدلاي او د فضـــاء د تـــوروالي لامـــل همـــدا د فضـــاء پراخيـــدل دي چـــي هغـــه ســـتوري او ســـياري چـــي رڼـــا رامنځتـــه کـــوي د هغـــوي فاصـــله زيـــاتيږي.د همـــدي د فضـــاء د پراختيا له وجهي.

(c) ketabton.com: The Digital Library






## تور غار

ملګرو زموږ لا محدوده کاینات د انسان له فکر لیري او ډیره غټ دي. د یوویشتمی پیړۍ د ټیکنالوجي با وجود انسانانو ددي کاینات د ماس (Mass) د یوه فیصد زرهمه برخه هم پیدا نه کړه.بیشکه زموږ بی مثل کاینات د الله(ج) بی مثله تخلیق دي او ددي په راضو پو هیدل د انسان له فکره لیري خبره ده. دغه عظیم کاینات هره لحظه ډیره پراخیږي، ددي د پراخیدو اندازه تاسو له دغه خبري څخه کولاي سی چي په فضاء کی فاصله او وخت په کیلومتر یا په متر یا په کوم بل شی نه اندازه کیږي بلکه په نورۍ کال باندي اندازه کیږي. ملګرو په دغه نوي عصر کی تر ټولو تیز رفتار د نور رفتار دی کوم چي ۳۰۰۰۰۰ کیلومتره پر ثانیي په رفتار سره حرکت کوي دا رفتار دومره تیز او زیات دي چي تاسو په دغه رفتار سره په یو ثانیه کی اوه واري پر ځمکي راڅرخیداي سي.

لمر زموږ د شمسي نظام واحد او یو درمیانه ستوري دي او تر ده هم غټ په ملیاردونو ستوري سته زموږ په کاینات کی کوم چی یو له بله په څو نورۍ کاله په اندازه لیري فاصلي سره موجود دي. ملګرو د الله(ج) هر تخلیق شوي شی ته مرګ راتلل ضروری دي.همدارنګه لمر او تر هغه لا غټ ستوري کوم چی سور قهرمان ورته وایي کوم چی د روښانه ګازونو څرچینه وی کله چی خپل ټول عمر د تیرولو وروسته مړیني ته نږدي سي نو دلته ددوی سایز په تیزي سره غټیږي او ددوي په داخل کی مختلف عناصر پیدا کیدل شروع سی او کله چی ددوي په مرکز کی اوسپنه پیدا شي نو د یو عظیم چاودني وروسته په کاینات کی وپاشل سي مګر ددوي په مرکز کی د زیات جذب له امله یو

(c) ketabton.com: The Digital Library





داسـي تور شـى په وجود راسي کوم چي وروسته تور غـار يـا بليـک هول ځيني جـوړ سـي.
دا تور غـار پـه کـاينـات کي موجود ډير غټ غټ غارونه دي او د جذبي قوه يي زياته وي چي ډير غټ سـتوري او سـياري او نور شـيان له تيرولاي شـي تر دغه حده چي نور لا دغه ته نږدي نه سـى تـيـريـدلاي او دا نـور لا جـذب کـى.
لحاظا هر چيري چي په فضاء کي دغه تور غارونه موجود وي نو هلته به هر طرف تـه بـه تـاريقه وي. که چيري موږ ددغه تور غار د کثافت خبره وکړو نو ددغـه تور غـار کثافت دومره دی که ځمکه له څلورو خواو څخه کښيکشـولو باندي دومره کوچني کړو چي ګوولف د ګين په برابر سـى نو دغـه حـالت کی چي کوم کثـافت چي د ځمکي به وي زيات و کم همدومره کثـافت بـه ددغـه تور غـار وی.ددغـه غارونو د جذب قوه دومره زياته وي چي غټ غټ کهکشـانونـه دده پـه شـاوخوا څرخيدو تـه مجبوره دي.
په کوم کهکشـان کی چي موږ ژوند کوو يعني د شـيدو لار دهغه په مرکز کی هم يو تور غار موجود دي د کوم دلاسـه چي زموږ ټول کهکشـان د هـغـه پـه شـاوخـوا څـرخـي.
پـه دغـه خبري بـاندي د پوهيدو لپـاره چي ددغـه تور غـارونو د جذبي قوه څومره زيـاتـه ده،دلتـه به دا خبره درته وکړم که موږ وغوړو چي د خپل د کهکشـان يعني د شيدو لار څخه ووځو نو موږ ته يو لک نورې کال وخت په کار دي او زموږ سـولر سـيسـتم زموږ د کهکشـان په آخري کونج کي مـوجـود دي.
ددغـه تور غـار د اوسـيـدو نشـانونـه پـه کـاينـات کي دوه دانې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اول د شیدو په څیر روښانه رڼا ده کوم چي له ده څخه راوځي کوم چي په فضـــاء کی په واضـــح توګه لیدلاي شـــو کوم چي د کاینات په تاریقه کي د لیري ځـایو پوري ځي او دوهم نشـــــانه په کاینات کی ددوي لوړ او لاندي غار کیدل دي، د کوم د لاســـه چي د کاینات له یوي برخي څخه بل برخي ته اویا کوم بل کاینات ته رســـیدلای شـــو.ولي چي ســـاینس همدا منی چي کـاینـات یو نـه دي بلکـه پـه یو وخـت کی ډیر دي او یو پـه بل متوازي دي. که چیري په ریاضـکي توګه خبري وکړو هر هغه شی چي ماس ولري او د جذب قوه ولري تور غار جوړیداي ســی په هغه صــورت کی که چیري موږ دغه شـی دومره کښیکاږو چي د خپل اصلي سایز څخه د ناقابل یقین حده پوري کوچني سی په دغه صورت کي که دا شی هر شی ته که نږدي ســـی نو هغه به دده د جذبي قوي څخه به د باندي نه ووځي تر دغه حده چـــــــي رڼـــــــا هـــــــم نـــــــه.
مثـال په توګه که چیري تاســـو غواړي خپل ځان په تورغار بدل کړي نو تاســـو به خپل ځان د ریګ د یوي زري یو پر شـــپاړس برخي څخه به لا زیـــــــات کـــــــوچـــــــنـــــــي کـــــــوي بـــــــه.
ملګرو شی چي څومره غټ وي د هغه په کښیکښولو سره چي هغه څومره بـه کـوچـنـي شـــــي د هـغـه د جـذبـي قـوه بـه هـغـومـره زیـاتـیـږي.
لمر زموږ لـه ځمکي څخـه لس لکـه واري غـټ دي او کـه دغـه لمر کښـیکاږو په تور غار یي بدل کړو نو دده ســایز به یوازي ۳ کیلومتره به پـــــــــــــاتـــــــــــــه شـــــــــــــي.
د یو تور غار رامنځته کیدو وروسـته دده سـایز دده د شـاوخوا سـتورو او ســـیارو،د ګاز وریځو او داســـي نور شـــیان په تیرولو ســـره نور هم غټیږي.غټ غټ تور غارونه د ځان څخه کوچني ســـایز ولا تور غارونه پـــه ځـــان کـــی جـــذب کـــوي او خـــپـــل ســـــــایـــز زیـــات غـــټـــوي.
تر تولو کوچنی تور غار چي تر اوســه کشــف شــوي دي د هغه ســاحه ۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیلومتره ده او د هغه نوم XTEJ1650—500 دي.ددغه کوچنی تور غار ماس هم د لس لمرونو په برابر دي او تر ټولو غټ تور غار چي په کاینات کی اوس کشــف شــوی دي د هغه نوم S50014+81 دي او دده ســایز د ځمکي او لمر تر منځ چی کومه فاصـــله ده د هغه څخه لا ۱۶۰۰ واري زیات دي او ددغه تور غار په داخل کی د څلویشت ملیارده لمرنو غوندي مـــــــــاس مـــــــــوجـــــــــود دي.

د نن ټوله نوي ســاینســي څېړني دغه نتیجي ته رسـیدلي دي چی دغه تور غارونـه لـه یوه کاینات څخه بل کاینات ته د تلو لار ده مګر تر دغه پوري رسیدل ممکن نه دي او که چیري تاسو ددغه په داخل کی تیریدل غواړي او دده د یو سر څخه په داخلیدو سره د بل سر څخه یي راوتل غواړي نو تا ســو باید د نور په رفتار ســـره حرکت وکړي کوم چي هیڅ حالت کي مـــــمـــــکـــــن نـــــه دي.

## تـــور غـــار د قـــرآن پـــه رنـــا کـــي

ملګرو کوم وخت چي قرانکریم نازل شـــو هغه وخت هیڅ د ســـاینس او ټیکنـالوجي علم نـه وو،مګر په هغـه دور کي هم قرآنکریم د تور غار او د هغه د نښـــانو ذکر وکړ او دا یي راته وویل چي تور غار په حقیقت کي له یـوه آســـمـــان څـخـــه بـــل آســـمـــان پـــوري د تـــلـــو لار ده. په عربي کی لاري ته طریق وایي او ددغه لفظ طریق څخه طارق راوتلی او په همدغه نامه باندي په قرآنکریم کی یو صـــورت هم نازل شـــوي او الله(ج) پـــــــه کـــــــی فـــــــرمـــــــایـــــــي:

قسـم په آسـمان او پر راتلونکي د شـپي باندي او څه شـي خبر کړي ئی ته څه شـي دي راتلونکي د شـپي ستوري دي ځلیدونکي چه نه دي هیڅ نفس مـــګـــر پـــر هـــغـــه بـــانـــدي ســـاتـــونـــکـــي دي. ځلیدونکی دلته په دغه صورت کی په ثاقب سره نومول شوي او ثاقب په

(c) ketabton.com: The Digital Library



عربي ژبه کی شـا و مخ غار ته ویل کيږي او د شـيدو په څير روښـانه روښـنايي تـه هم ثاقب وايي کوم چي په تاريقه يا تياره که تر ليري ځاي پوري ځي.ملګرو ددغه آيات مبارک څخه دا معلوميږي چی دا ځليدونکي ستوري هم دغه دي کوم چي ساينس د تور غار(بليک هول) په نامه سره پـــــــــــــيـــــــــــــــــژنــــــــــــــــــي.

ددغه علاوه په صورت الواقعه کي الله(ج) د تور غار په اړه داسی فرمايلي دي پـــه آيـــات نـــمـــبـــر ۷۵ څـــخـــه تـــر ۷۷ پـــوري:

نو قسم اخلم زه په ځايو د ډوبيدو د ستورو باندي او بيشکه چي قسم دي که تـاســـو پـوهـيـږي لـوي چـه بـيشـــکـه دا قـرآن عـزتـمـن دي.

ملګرو په باوري توګه د ســـتورو د ډوبيدو ځاي ددغه تور غارونو علاوه کوم بل شـی کيدای نه سـي د کوم تذکره چي ۱۴۰۰ کاله دمخه الله(ج) په قرانکريم کی وکړ او ســـاينس دغه نږدی تير وختونو کي دا تور غارونه کشـف کړي.ددغه علاوه سـاينس دا نظريه هم وړاندي کوي چي دا کاينات يو نـه دي بلکـه لـه يوه څخـه زيـات دی او يو پـه بـل متوازي دي او ددي حواله هم په قرآنکريم کی ۱۴۰۰ کاله دمخه راکړ شـوي دي،په صـورت الـــنـوح کـــي آيـــات نـــمـــبـــر ۱۳ څـــخـــه تـــر ۱۵ پـــوري:

او په تحقيق ســره پيدا کړي ئی ئی تاســو رکم رکم او نه ويني تاســو چه څـرنـګـه پـيـدا کـړي دي خـداي اوه آســـمـانـونـه لانـدی بـانـدي.

ملګرو تور غارونه کيدای سی په تعداد کی زيات وي موږ ته په قرآنکريم کـی حـوالـه راکـول کـيـږي پـه هـغـه کـی الله(ج) فـرمـايـلـي دي صـــــــــورت الــمــومــنـــون کـــي آيـــات نـــمـــبـــر ۱۷:

او خامخا پيدا کړي دي موږ اوه طبقه (يعني آسمانونه).ددغه آيات مبارک وروســته دا ثابتيږي چي د تور غار تعداد اوه دي کوم ته چي په اوه لارو ســـــــره تشـــــــبـــيـــح ورکـــول شـــــوي دي

لکه څرنګه چي ما مخکي يـادونـه وکړه چي کـه تـاســـو وغواړي ددغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غارونو په داخل کي تير سي نو تاسو باید د نور په رفتار سره تیر شي کنی نو دغه تور غارونه هر شي په زراتو بدل کړي او خپل په شاوخوا راوڅرخوي او بیا د ځان ته یی دننه کړي او تیر یي کړي. که په ساینسي توګه وګورو نو دومره تیز رفتار ولا شي جوړول ناممکنه دي که کوم شی نور د رفتار مقابله کولاي سی نو هغه دي د برق رفتار او موږ ټولو ته دا معلومه ده چي په شب معراج کي د داسی تیز رفتار سواري یوازي الله(ج)په خپل محبوب حضرت محمد(ص) باندي وکړ، کوم چي په بوراق یي تر سره کړ کوم چي له برق څخه راوتلي دي یعني بریښنا.

امید لرم چي تاسو به اوس دغه تور غارونه(بلیک هول) پیژندلي وي

# پاي

**تاریخ:**1398/9/19

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**